
دریمه کچه

# د شمشتي کیسه

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all



**لیکوال:** کارتیک شنکر
**انځورګر:** مایا راماسوامي

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



کله چې زه سهار له خوبه راویښه شوم، لمر بیا ځلېدو. ما خپل شاوخوا وکتل، دې چرت کې وم چې زه چېرته وم. او بیا مې په یاد راغلل. زه د یوې سترې شنې نرۍ په منځ کې چې ما اورېدلي وو خلکو بحر باله، یوه کوچنۍ سمندري شمشتۍ – زیتوني شمشتۍ – وم. ګېر چاپېره نیلا او شنې اوبه وې، او د لمر رڼا له وریځو سره لوبې کولې. ما خپلې خپړې د خپل جسم لاندې په قوت سره زور کړې او د اوبو جریان ته د خپل ځان په سپارلو سره، تر څو و مې ګرځې، یو څو شېبې د اوبو په سر وګرځېدم.

زه نه پوهېدم چې زه چېرته وم. خو دا کومه ستونزه نه ده کله چې لمر ځلیږي، او په نس مړه یې.

لمر زه توده کړم، او ما ته یې نوې انرژي راکړه.

په همدې وخت کې چې زه په دې فکر کې وم چې زه به په خوښۍ سره خپل پاتې ژوند دلته تېر کړم، د کبانو یوه ډله زما څنګ ته تېره شوه. هغوی پسې یو ډېر غټ کب روان و. زه ویلای شم چې دا کب شدید وږی هم و. کله چې هغه زه ولیدم، د هغه سترګې وځلېدې. ”امممم“ داسې برېښېدل چې هغه فکر کاوه، ”د تنکۍ شمشتۍ ښورا!“

شیېې وروسته، ما په خپل قوت سره لامبو وهله، په داسې حال کې هغه له سترو غاښونو سره زما کوچنیو وروستیو خېړو ته خوله اچوله.


نژدې و چې سترې شم، ما د سمندري وښو یوه تخته ولیدله. د سمندري وښو تخته بس داسې یو شی دی لکه په حرکت کې د وښو او اوبو راوړې تختې یوه کټله چې په سمندر کې د اوبو د جریان په مرسته یو خوا بلخوا ګرځي راځي. د تختې د پاسه او دننه در په در ګرځېدونکي حیوانات، د سمندر ټول کوچني او نسبتاً غټ مخلوقات چې په سمندر کې اخوا دېخوا ګرځي راګرځي، قرار لري، چې د یو څه پېښېدو ته په تمه وي.

په خوښۍ سره، زه په تخته کې دننه ورننوتم. ما به دا خوندي پناه ځای په کلونو کلونو پرېښی نه وی.

په تخته سپرېدل داسې وو لکه په سمندر کې د نړۍ په سفر وتل. ما له دې څخه ډېر خوند واخیست، خو زه چې غټېدم، ما پرېکړه وکړه چې اوس له تختې بهر د سترې پراخه نړۍ د سیاحت وخت رارسېدلی دی.

ما د سمندري ټاپو (Reef) په نوم د یوه ځای په هکله ناآشنا خبرې اورېدلې وې چېرته چې نورې شمشتۍ اوسېدې. هر چا ویل چې سمندري ټاپو د سمندر د ښاپېریو وطن دی. هغوی ویل چې دا ځای د ښکلو،
د ځلېدونکو-رنګونو درلودونکو موجوداتو څخه، چې هم بې ضرره موجودات لکه مسخره (clown) کب او هم زهري لرونکې موجودات لکه لړم-وزمه-کب (scorpion fish) پکې شامل دي، ډک دی.
زه په دې فکر کې وم چې دا به څنګه پیدا کوم.






ناڅاپه، تکه توره تیاره شوه. یو ستر سیوری زما د پاسه خپور شو.

د ډار په حالت کې ما پورته وکتل؛ په دومره ستر شمشتۍ مې سترګې ولګېدلې چې په ژوند کې مې کله لیدلې نه وه. د هغې ملا نرمه او خرمني وه. زه ورته متوجې شوم. یوه شمشتۍ له نرمې ملا سره؟ څومره چې زه معلومات لرم ټولې یې ډېرې کلکې شاګانې لري.

د سترې شمشتۍ ما ته پام شو چې په ځیر سره ورته ګورم. ”حیرانه شوې؟“ هغه په مهربانه غږ کې وغورېدو. ”ته باید متعجب نه شې. زه د څرمني ملا درلودونکی شمشتۍ یم“



زه وبنګېدم، ”سهار په خير، ښاغلیه!“

ما خپلو خبرو ته ادامه ورکړه، ”ښاغلیه! ته چېرته روان يې؟ سمندري ټاپو ته له نورو شمشتیو سره د اوسېدلو لپاره؟“

”آه، کشکې دا نعمتونه او لذتونه زما په نصيب وای. خو نه، زه د جيلي لرونکي کب په لټه کې ډېر بوخت. همدا زما خوراک دی“، د خرمني ملا شمشتۍ يو سوړ اسويلی وکړ.


ما پوښتنه وکړه، ”ته دا چېرته پيدا کوې؟“




”هلته د سمندر په ژورو کې“، د څرمني ملا شمشتۍ وویل. ”کله کله دوی ته د رسېدو لپار زه تر ۱۰۰۰ فوټه زيات ژورې غوټې وهلو ته اړ کېږم. او کله کله خو زه آن تر کاناډا ځم، چېرته چې اوبه ډېرې سړېږي. بل هيڅ کوم خزنده په دومره سړو اوبو کې ژوندی پاتې کېدای نه شي.“

”ښاغليه، که بې ادبي نه وي، نو کولای شم چې پوښتنه وکړم چې ستاسې وزن څومره دی؟“ ما غلی غوندې وويل.

د څرمني ملا شمشتۍ چې خوښ برېښېدو په ځواب کې وويل، ”وړکی، نږدې ۶۰۰ کېلوګرامه يم. او زه، سره د وازګې، په دې هر څه وياړم. ځکه، همدا وازګه ده چې له ما سره په دومره اوږدو سفرونو کې مرسته کوي. ښه، زه بايد اوس ولاړ شم.“






”ما وویل، “”بالکل صیبه! خو مخکې له دې چې روان شې، لطفاً که راته ووایاست چې سمندري ټاپو به چېرته پیدا کړای شم؟“


د څرمني ملا شمشتۍ د روانېدو پر مهال په خپلې خپړې سره اشاره وکړه، ”دغه لوري ته دی.“

”ډېره مننه، ښاغلیه، او ښه ښکار ولرې!“ ما د ټاپو پر لور د روانېدو سره سم غږ وکړ.



زه په ټاپو کې وم چې له هغه بوډۍ زرغونې شمشتۍ سره مې لیده کاته وشول. زما ملګرې، بازمښوکې شمشتۍ چې خوله یې د یوه باز د مښوکې په څېر کږه ده، راته وویل چې زړه زرغونه نېږدې ۵۰ کاله عمر لري. "زما....! دا خو ډېره زړه ده!" ما په حیرانتیا سره وویل. " نو دا څنګه دومره ځوانه معلومېږي؟"


بازمښوکې شمشتۍ وویل، "ګوره، زرغونه شمشتۍ یوازې د سمندر واښه او الجي خوري، نو له همدې کبله دا په نېږدې ۳۰ کلونو کې بلوغت ته ورسېده. زه او ته به په ۱۰ کلنۍ کې بالغان یو."



هغه زياته کړه، ”آيا پوهېږې کله چې هغه منځوله (د هګيو اچولو ځآی) جوړول وغواړي، هغه د سمندر په منځ کې ټاپوګانو ته سفر کوي؟ رڼه اسمان رنګه جهيلونه، سپينه شګه، دا نو ډېر ښکلي دي...“

ما پوښتنه وکړه، ”آيا ته کله هلته ورغلی يې؟“

بازمښوکي شمشتۍ وويل، ””اوه هو، کله کله ساحل ته رسېدو لپاره بايد د مرجان د پاسه په خاپوړو ولاړه شي.“



زه ورپېرډېدم. زه د تېره مرجان د
پاسه په خاپوړو تګ څخه
کرکه لرم. زه غواړم چې زما د
نرمې او پستې ګېډې لاندې دې
نرمه شګه وي.

”فکر مه کوه، ته به دا کار
کولو لپاره اړه نه شې،“ یوې
بلې شمشتۍ راته وویل. ”مونږ
یوازې په نرمو ساحلو کې د
هګیو منځولې جوړوو، لکه د
میکسیکو، کوسټآریکا، او هند
ساحلونه چې دي. خو ته به
پخپله دې ته متوجې شې کله
چې وخت یې راورسېږي...“




”زه به څنګه پوهه شم چې دا يې وخت دی؟“ ما په ډېر اشتياق سره پوښتنه وکړه په داسې حال کې چې هغه په لامبلو وهلو سره روانه شوه. ”ته به پوهه شې، باور وکړه،“ د هغې جواب و.



ما په ټاپو باندې یو څو د خوښۍ کلونه تېر کړل چې په ترڅ کې یې ما له خپلو ډېرو تربورانو شمشتیو سره ملاقاتونه وکړل.

له شنو شمشتیو او بازمښونکي شمشتیو پرته، ما له غټ سري سمندري شمشتیو – چې ډېر غټ غټ سرونه لري – او ما ته ورته نورو ډېرو کوچینو شمشتیو سره هم ملاقاتونه وکړل.

او بیا یوه ورځ، بس د سترګو په رپ کې، زه غټه شوې وم، او دا نو د تګ وخت و. زه څنګه پوهه شوم چې دا یې وخت و؟ زه نه پوهېږم. په زړه کې دننه یو چا راته دا وویل. زه پوهېدم چې باید له نورو شمشتیو سره یو ځای شمال لوري ته د هند ختیځ ساحل ترڅنګ په لامبو وهلو سره سفر وکړم تر څو چې مونږ اوړیسا ته ورسېږو، او هلته د سمندر په نرمو ساحلونو کې خپلې هګۍ واچوم. زما په سر کې کوچني قطب نما راته هلته د رسېدو د څرنګوالي لارښودنه کوله.




”دا فقط ۲۰۰۰ کیلومتره لېرې
دی،“ یوې غټ-سرې شمشتۍ
پوزه پوزه کش کړه، څنګه چې
هغه په لامبو وهلو یوه جلا لورې
روان شو. ځان ښودنه! بس څکه
چې د ده په څېر غټ-سرې شمشتۍ
کله د خپلو هګیو د اچولو لپاره
نېږدې ۱۵۰۰۰ کیلومتره سفر
کوي (له کالیفورنیا څخه نیولی،
د آرام سمندر هاخوا، تر جاپان
پورې)! ما هغه ته پام و نه ګړو
په الوتونکي کب باندې مې، چې زه
زما د خوښې خواړه دي، شخوند
وهلو ته ادامه ورکړه.

دا ستر سفر پیل شو.
زما ګېر چاپېره اوبه زما په څېر له
نورو شمشتیو څخه ډکې وې،
چې په قوت سره یې لامبو وهله.



دا آسانه سفر نه و. د لارې په اوږدو کې، ګڼ شمېر خطرونه وو. که څه هم زه اوس له زیاتره کبانو غټه وم، خو لا هم داسې شارک کبان وو چې مونږ یې نیولای شوو.




خو شارک کبان د هغه کب نیونې جالونو په څېر خطرناکه نه وو چې ترڅنګ به یې مونږ تېرېدلو.

ما له جالونو څخه د ځان ژغورلو لپاره په ډېر احتیاط سره لامبو وهله، په ځانګړې توګه له خنجکو درلودونکو خطرناکه جالونو څخه. زه وتوانېدم چې له دغه ټولو جالونو څخه ځان وژغورم، خو زما ځینې ملګري دومره خوشبخته نه وو.

بالاخره، زه د ګاهېرماتا (Gahirmatha) سمندر غاړې/ساحل ته ورسېدم. دا هغه ځآی دی چېرته چې په هندي سمندر کې د بل هر ځای په پرتله ډېرو شمشتیو د هګیو منځولې (د هګیو اچولو ځایونه) جوړې کړې و.

اوس وخت رارسېدلی و چې زه خپله لومړنۍ د هګیو منځوله (د هګیو اچولو ځمځه) جوړه کړم.




مونږ تل په شپه کې د هګیو
منځولې جوړوو. ما د څپو د یو
څه نور لوړېدو پورې انتظار وکړ،
تر څو په ساحل باندې تر ډېر
واټن پورې په خپله په خاپوړو
تګ ته اړ نه شم. زه د اوبو له
څپې سره راغلم او له زېږون
راهیسې په لومړي ځل مې د ځان
لاندې ځمکه احساس کړه.

په لومړي سر کې راته عجیبه
غوندې احساس وشو. کرار کرار،
ما د یو وچ ځای د موندلو لپاره
ځان د ساحل لوري ته کش کړ.

یو ځل چې زه د لوړو څپو له کرښې څخه تېره شوم، شګه ډېره وچه شوه او په خپلو مخکېنیو خپړو سره مخ پر وړاندې په حرکت کولو سره زما شاوخوا الوتله. په ځمکه حرکت کول ډېر ستونزمن کار دی. ما د ساه اخیستلو لپاره دمه وکړه او پورته مې وکتل.

ساحل اوږد او تیاره و.



د ساحل شا ته یوه ستره د شګو تپه او یو څه اندازه ونې بوټي وو. ما اورېدلي وو چې د دې ساحل شا ته یو ستر ځنګل و چې بهېتارکانېکا (Bhitarkania) نومېده چې د مالګینو اوبو تمساحګانو، پاچا کوبرا مارانو او نور هر قسم ژوو څخه ډک و.

په دغه وخت کې ناڅاپه مې په ساحل کې په یو بل څاروي سترګې ولګېدې. د دې څاروي څلور پښې وې او د یوې شمشتۍ د هګیو منځوله یې کیندله. ما د خپل توان سره سم ښه په چټکۍ سره اوبو ته منډه کړه. په هغه شپه ناوخته، زه بیا په خاپوړو ورغلم، او پورته په ساحل کې د آئپومیا (Ipomea) بوټو کې، چې په ځمکه یې څانګې غوړېدلې وي، ننوتم.

په ساحل کې زما په خوښ کړي ځای کې، ما وچه شګه لېرې کړه، او په خپلو وروستیو خپړو مې یوه ستره کنده وکیندله. زه په دې اړه ډېره وهمي او محتاطه یم چې زه واقعاً څنګه دا کار ترسره کوم. زه تل یوه خپړه په بل پسې خښوم، یو څه اندازه شګه د ښېل په بڼه راپورته کوم او بهیر یې اچوم.





دا د ترموز په شکل نړدې دوه فوټه ژوره کنده چې تنګه غړۍ یې لاندې ژورې کندې ته رسیږي، ډېره ښکلې وه. بیا ما خپلې هګۍ اچول پیل کړل.

۱، ۲، ۴، ...، ۴۴، ۴۵، ...، ۹۹، ۱۰۰ او بیا زما خپل کار خلاص شو.


ما خپلې قیمتي هګۍ په احتیاط سره په شګه پټې کړې، او په خپل بدن مې وټپولې. په پای کې، ما لږه شګه اخوا دېخوا وشیندله تر څو ډاډ ترلاسه کړم چې هیڅ څوک هم زما د هګیو منځوله پیدا نه کړای شي.


ژر، ژر، زه سمندر په خاپوړو ولاړم چېرته چې ما ځان ډېر خوندي احساس کړ.

دوه اونۍ وروسته، ما د بیا ځلې هګیو اچولو لپاره د منځولې جوړولو په موخه چمتووالی نیوه. مونږ عموماً په یوه فصل/موسم کې د دوه یا درې د هګیو منځولو جوړولو لپاره کافي هګۍ جوړوو. زړه مې راته ویل چې دا به یو غوره نظر وي چې د هګیو منځوله همالته جوړه کړم چېرته چې مې تېر ځل جوړه کړې وه. دا یو ښه او خوندي ځای برېښېدو.

په هغه شپه، زه مناسب حالت ته د ځپې راتګ لپاره په لږو ژورو اوبو کې منتظره وم، چې ما په هوا کې یو څه بدلون ولید. دا هوا قوي وه او له یوه مختلف لوري څخه لګېدله. ناڅاپي پوه شوم چې دا خو سلګونه، نه نه، بلکې زرګونه نورې شمشتۍ وې چې د هګیو اچولو لپاره د هګیو منځولو جوړولو لپاره منتظرې وې. زه خبره وم چې ګڼ شمېر نورې شمشتۍ هم د ګاهېرماتا اوبو کې د هګیو منځولو جوړولو په موخه په حرکت وې، خو ما هیڅکله دومره ډېرې شمشتۍ یوځای لیدلې نه وې.







او بیا، مونږ ټولو یوځای د ساحل په لور حرکت وکړ. ساحل مخکې له مخکې ډک و. زرګونه نورې شمشتۍ وې، شګه په هوا کې الوتله، مونږ ټولو له یوه بل سره ټکرونه کول.

په پای کې، ما وکړای شو چې یو پاک ځآی پیدا کړم، او د خپل ځآن لپاره یوه د هګیو منځوله وکنم. زما خوا کې شمشتۍ دومره په بیړه کې وه چې هغې آن د خپلې د هګیو منځولې کیندل سر ته رسولو مخکې خپلې هګۍ اچول پیل کړل.

ما ټکان وخوړ، مونږ شمشتۍ هیڅ کله دا کار نه کوو.



”آغلې، دا *آریباډآ** ده، مونږ په دې وخت کې لږ بې خوده کېږو.“ هغې راته وویل.

هيڅ څوک هم نه پوهېږي چې مونږ ولې دا کار کوو. خو دا مونږ لپاره ګټور دی ځکه چې بچوړي شمشتۍ په یوه وخت کې له هګیو راوځي. همدا لامل دی چې زیاتره کوچنۍ شمشتۍ د مارغانو، چنګاښو او شغالونو له وېرې تېښته کوي. پاتې دې نه وي چې مونږ نن سبا انسانان لرو چې باید ترې ډار وکړو.


** د یوې آریباډا – چې په هسپانوي ژبه کې د ’’رسېدنې‘ په مانا دی – په جریان کې زرګونه زیتوني شمشتۍ د هګیو منځولې جوړولو لپاره په شدید جنوني حالت کې د سمندر غاړې ته راځي. ساینسپوهان تراوسه پورې لا نه پوهېږي چې هغوی ولې دا کار کوي.*

بالاخره، وخت راورسېدو چې روانه شم او خپل د تغذیې سیمې ته ستنه شم. زه به هلته یو یا دوه کلونه تېروم، خوراکونه به کوم او د ګاهېرماتا ته د یوه بل سفر لپاره به قوت او انرژۍ اخلم. له بلې خوا، زرغونه شمشتۍ، مخکې له دې چې هغه د هګیو منځولې منځته راوړلو لپاره د خپل راتلونکي سفر ترسره کولو لپاره انرژي ولري، کله کله اړ کېږي چې پنځه یا شپږ کاله خوراکونه وکړي.

د روانېدو پر مهال، زه د هغه کوچنیانو په هکله په فکر کې یم چې ما شا ته پرېښې دي. له ۵۰ تر ۶۰ ورځو پورې به دغه هګۍ د شګو لاندې پرتې وي. دا شګې د لمر په واسطه تودېږي. او وروسته بیا یوه ورځ، له دغه هګیو څخه بچي راوځي، په داسې حال کې چې د هګیو پوستکي به د خپلو وربوزونو په څوکو ماتوي. دوی به، په داسې حال کې چې د شګې لاندې به له سلو څخه زیات بچوړي وي، له یو بل سره جوخت پراته وي او د لمر د پرېوتو او د شګې د یخېدو انتظار کوي.

وروسته، په تیاره کې، کله چې خطر نه وي، هغوی ټول په یو وخت راوځي. د هغوی سترګې به د سپوږمۍ په رڼا لګېږي چې په سمندر باندې منعکس کېږي او پوه به شي چې کوم لوري ته باید حرکت وکړي. هیله منده یم چې د واټونو او سړکونو رڼاګانې به نه وي چې ناسم لوري ته د دوی د سوق کېدو سبب شي.





هغوی به د څپو په مقابل کې لامبو وهي او د مخې ته راتلونکو خنډونو نه به کښته غوټې کېږي.



اوه، په لار به غټ او کوچني کبان وي چې دوی ونیسي، او سمندري مارغان او بازان به هم وي، خو ځینې به ځانونه وژغوري. په آزاد سمندر کې به هغوی خپلې کوچنۍ د سمندري وښو تختې، چې د کلونو کلونو لپاره به د اوبو په سر د هغوی ګرځنده کورونه وي، پیدا کړي.

بیا به هغوی غټې شي، او ښايي هغوی زما د تغذیې سیمې ته هم راشي. ښايي مونږ به خپلو کې ملاقات وکړو، که څه هم دې کې شک نشته چې زه به هغوی نه پېژنم.

بیا هم، زه په دې پوهېدو خوشحاله یم چې هغوی په کوم ځای کې شتون لري، او دا چې یوه ورځ به هغوی هم د خپلو هګیو اچولو لپاره زما په څېر همدې ساحل ته راشي، او د ژوندانه ټوله عالي دوره به له سره پیل کړي.

## تاسې ته د زیتوني شمشتۍ له خوا یو پیغام

سمندري شمشتۍ د ګڼو لاملونو له امله په ټوله نړۍ کې له خطر سره مخ دي. د شمشتیو ځینې انواع د هغوی د غوښې له امله چې د شمشتۍ سوپ (ښوروا) جوړولو لپاره کارول کېږي، وژل کېږي. د بازمښوکې شمشتۍ پوښ د شمشتۍ پوښ محصولاتو، لکه د عینکو چوکاټونه او د ویښتانو لوازم، جوړولو لپاره کارول کېږي. د شمشتیو ډېرې هګۍ او بچوړي د داړونکو ژوو، لکه سپي او کارغان، له خوا خوړل کېږي. خو تر ټولو ستر خطر د کب نیونې له اړخه دی. ډېرې سمندري شمشتۍ په تصادفي توګه د کب نیونې په یو شمېر جالونو کې نیول کېږي، ډوبېږي او مړې کېږي.

په هندوستان کې، ګڼ شمېر محافظتي ګروپونه فعالیت ترسره کوي چې د سمندري شمشتیو د ژغورلو هڅې کوي. هر ساحلي ایالت یو یا زیات دا ډول ګروپونه لري.



# د سمندري شمشتیو د ژغورلو لپاره تاسې څه کولای شئ؟

**که تاسې یوه ساحل ته څېرمه اوسېږئ چېرته چې شمشتۍ د هګیو منځولو اچولو لپاره راځي:**

- د ساحل په پاک ساتلو کې مرسته وکړئ تر څو بچي شمشتۍ او میندې ټپي نه شي.
- په خپله سیمه کې غټانو ته په دې اړه پوهاوی ورکړئ چې ځنګه ساحل ته نېږدې د واټونو رڼاګانې او نورې رڼاګانې د شمشتۍ بچوړو لپاره ضررناکه ثابتېدلای شي – یو ځل چې بچوړي له هګیو راووځي، هغوی پر اوبو د سپوږمۍ د رڼا انعکاس ته په کتلو سره د سمندر موقعیت سنجوي چې چېرته دی. نو که چېرې په سیمه کې نورې روښانه رڼاګانې شتون ولري، کېدای شي دوی سرېداله شي او په ناسم لوري حرکت وکړي، او په پای کې خطر سره مخ شي.
- معلوم کړئ چې آیا ستاسې ایالت کې د سمندري شمشتۍ د ساتنې ګروپ شته دی او وګورئ چې آیا تاسې هغوی سره لاس یو کولای شئ؟

**که تاسې ساحل ته څېرمه نه اوسېږئ:**

د سمندري شمشتیو په اړه ښه پراخه مطالعه وکړئ او دوی چې له کومو خطرونو سره مخ دي د هغې په هکله هر هغه چا سره خبرې وکړئ چې تاسې یې پېژنئ. د پوهاوي خپرول د ساتنې یوه **مهمه** برخه ده.

## لارښودونکې پوښتنې

1. وړې شمستۍ د خپل سفر په ترڅ کې له کوم ډول شمشتیو سره ملاقات وکړ؟ هغوی څه توپیرونه درلودل؟
2. په خپل سفر کې وړه شمشتۍ له کومو ګواښونو څخه ډارېده؟
3. په دې کیسه کې کوم مخلوقات تاسې لپاره زړه راښکونکي وو؟ تاسې د نورو کومو سمندري مخلوقاتو په اړه معلومات لرئ؟ تاسې د کومو مخلوقاتو په اړه نور معلومات ترلاسه کول غواړئ؟
4. د شمشتیو او د هغوی د بچیانو ترمنځ اړیکه د انساني میندو او د هغوی د بچیانو ترمنځ اړیکې څخه څه توپیر لري؟
5. آیا تاسې کله په یوه اوږده سفر تللي یاست چې په ترڅ کې مو یې له ډول ډول خلکو سره لیده کاته شوې وي؟ هغوی څه ډول وو؟